Diijon DaCosta, Sr. ښاغلی، *د بورډ رییس*
Deirdre P. Pierce مېرمن، *مرستیاله سرپرسته*
Anna Hill مېرمن
Whitney McGinniss مېرمن
Allyson Gevertz مېرمن
Vickie B. Turner مېرمن
Joyce Morley ډاکټره

DeKalb County School District
Devon Q. Horton ډاکټر، *آمر*

**د سمدستي خپرولو لپاره**

27 جون 2024

**اړیکه:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

## د DeKalb کاونټي د پوهنې بورډ د 25 مالي کال بودیجه تصویب کړه کومه چې د کارمندانو او ټولنې ژمنتیا په ګوته کوي؛ په املاکو باندې د ملکیت د مالیې کچه را کموي

*د دوهم پرله پسې کال لپاره، په املاکو باندې د ملکیت د مالیې کچه په 0.10 اندازه را کمه شوې*

(STONE MOUNTAIN, GA) - د جون په 24 مه نېټه د [DeKalb کاونټي د پوهنې بورډ (*DCBOE*)]د خپلو اوسنیو او راتلونکو کارمندانو لپاره د قوي ژمنتیا څرګندولو په پار د 2025 مالي کال (*FY25*) بودیجه تصویب کړه. د بورډ لخوا دا تصویب د عامه بودیجې په اړه د دوه استماعیه غونډو څخه وروسته ورکړل شوی کومې چې د نظرونو ترلاسه کولو لپاره د [جون په 17] او د [جون په 24] رامنځته شوې وې.

برسیره پردې، DCBOE د دوه پرله پسې کلونو د کموالي د څرګندولو په پار د 25 مالي کال لپاره په املاکو باندې د ملکیت د مالیې کچه په 0.10 اندازه 22.88 ته را کمولو لپاره رایه ورکړه. دا په 24 مالي کال کې د 20 مالي کال راهیسي د ټاکل شوې کچې په اندازه له 23.08 څخه 22.98 ته را کمه شوې وه.

رییس ډاکټر Devon Q. Horton وویل چې "موږ د دې بودیجې پراختیا په ټولو ښوونځیو کې د ټولو زده کوونکو نفوس لپاره د پایلو د لوړولو په خاطر د روښانه هدف لپاره پیل کړې او د دې پروسې پرمهال د بورډ د لارښونو ستاینه کوو". "دا بودیجه په خپلو کارمندانو او د ملاتړ په هغه سیسټمونو کې د تمویل له لارې د برابرۍ لپاره زموږ ژمنتیا څرګندوي چې په دې کې د سمون رامنځته کولو لپاره پر موږ تکیه کوونکو زده کوونکو، کورنیو او ټولنو باندې به مثبته اغیزه وکړي."

د بورډ رییس ښاغلي Diijon DaCosta, Sr. په لومړیتوبونو، متوقع پایلو او په مسؤولانه ډول د عامه فنډونو د اداره کولو په برخه کې د برابرۍ رامنځته کولو لپاره د بورډ په ژمنتیا ټینګار وکړ.

ښاغلي DaCosta وویل چې "د پوهنې بورډ د ډاکټر Horton او د هغه د کارمندانو څخه د هغو ننګونو د حل لپاره د هغوی د فکري او سټراټیژیک کار څخه مننه کوي چې ولسوالۍ ورسره اوس مهال مخ ده او زموږ د زده کوونکو لپاره د فرصتونو د ښه کولو په خاطر راتلونکې ته ګوري." "د بورډ غړو زموږ د کورنیو، سوداګریزو مشرانو او د ټولنې شریکانو خبرې په غور سره اورېدلو کې هم ډېر وخت تیر کړ. د دې ارزښتناکو خبرو اترو پراساس، موږ پرېکړه وکړه چې د دویم پرله پسې کال لپاره په املاکو باندې د ملکیت د مالیې کچه په 0.10 اندازه را کمه کړو.

د [DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (*DCSD*)] د 1.58 ملیارد ډالرو د عمومي فنډ (عملیاتي بودیجې) په شمول د ټولو فنډونو لپاره د 2.05 ملیارد ډالرو بودیجه وړاندیز کړې. د بودیجې مهمې برخې په لاندې ډول دي:

- د بورډ لخوا د می په میاشت کې [د موجوده کارمندانو ساتلو او نویو کارمندانو ګمارنې لپاره امتیازات] تصویب شول.
- د درجې وړ ټولو کارمندانو لپاره د درجې زیاتوالی.
- د خپلو [ښوونکو د معاشونو مهالویش] په کلکه بیا تنظیمول چې په اوسط ډول د ښوونکو په معاشونو کې 6.1٪ زیاتوالی رامنځته شو.
- د جبران او طبقه بندۍ مطالعې پایلې تطبیقول چې د 97% غیر تدریسي کارمندانو معاشونه له 5.0 څخه تر 5.5% پورې زیات شو.

-نور-

- د لومړني زده کړې اضافي ټولګي.
- د Horizon ښوونځيو لپاره دوامداره اضافي ملاتړ.
- په IGNITE Teacher Residency برنامه کې تمديد.
- د هر ابتدايي ښوونځي لپاره يو امنيتي همکار.
- د هر عالي ښوونځي لپاره لوړ پوړي سلاکاران.

DCSD د داسي چاپيريال رامنځته کولو ته ژمنه ده چيرې چې کارمندان او زده کوونکي وده کولی شي او د ستراتيژيک مالي پلان جوړوني او د ټولني همکارۍ په واسطه يې ملاتړ کيږي.

د بورډ هغه پريزنټشن چې د DCSD د 25 مالي کال بوديجي په اړه عمومي معلومات وړاندې کوي دلته موندل کيدی شي.

د DCSD د 25 مالي کال د ټولي بوديجي په اړه معلومات دلته شتون لري.

XXX

د Robert R. Freeman اداري ټولګه
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200 | www.dekalbschoolsga.org